الله تبارک و تعالى فرمايلي دي: زه د شريکانو تر ټولو زيات غني يم، نو څوک چې يو عمل وکړي، په هغه کې بل څوک زما سره شريک کړي؛ زه به هغه کس او د هغه شرک پريږدم

له ابو هريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي دي: «الله تبارک و تعالى فرمايلي دي: زه د شريکانو تر ټولو زيات غني يم، نو څوک چې يو عمل وکړي، په هغه کې بل څوک زما سره شريک کړي؛ زه به هغه کس او د هغه شرک پريږدم».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې الله جل جلاله فرمايلي دي: هغه له شريکانو څخه تر ټولو غني هر څه څخه بې پروا دی، او دا چې انسان کله له اطاعت څخه يو عمل وکړي او هغه د الله اوشريک دی، ځکه هغه له غيرالله لپاره وګرځوي، نو الله تعالى يې پريږدي او ورڅخه يې نه قبلوي، او په خاوند يې ږبرته ور واپس کوي. نو عمل بايد خالص د الله تعالى لپاره وي، ځکه چې هغه پاک ذات يوازې هغه څه مني چې خالص د هغه کريم ذات لپاره وي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3342

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee